# ماشومانو مقدس کتاب
## وړاندې کونکے

# پطرس او د دعا طاقت



لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Janie Forest
Alastair Paterson

خوښونکے: Ruth Klassen

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددګار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نهٔ شئ.





پطرس رسول ټول ملک ته لاړو
چې خلقو د عیسی مسیح په باره
کښې تعلیم ورکړی یوه ورځ
لدیه نومی ښار کښې یو سړی
سره ملاو شو چې اتو کالو نه
معذوره په کټ پروت وو
پطرس ورته ووئیل عیسی
مسیح تا له شفا درکوی،
پاڅه او خپله بستره
واخله.
سړے سمدستی
پاڅېدو.

کومو خلقو چې دا
ولیدل نو خدائ پاک
ته راوګرځېدل.


په خوا کښې د یافا ښار خلق خفه
وو. یوه مسیحی ښځه تبیتا اوس اوس
مړه شوې وه، په ویر او ژړه سره د
هغې ملګرو د هغې جنازه تیاروله، او
هغه یې بره کوټه کښې یخې وه چرته
چې هغوئ ټول
جمع وو.
3


خو د تبیتا ملګرې خبر شی چې
پطرس په دغه علاقه کښې
دے هغوئ هم هغه وخت
هغه یافا ته راوغوتلو. نو
کله چې هغه پاس باله خانې
ته ورغلو نو کونډو ښځو
هغهٔ ته هغه جامې وښودلې
چې هغوئ د پاره یې جوړې
کړې وې، او ټولو ژړل.
4


خو پطرس هغوئ ټول
بهر کړل، او په سجده
شو او دعا یې وکړه.
او لاش طرف ته یې
وکتل او وې وئیل اے
تبیتا راپاځه. او هغې
خپلې سترګې کولاو
کړې. او چې پطرس
ته یې وکتل نو پاڅېده.
5


بیا یې هغه د لاس نه
ونیوله او پائې څوله،
او چې کاله هغه پاکان
او (مسیحیان) او
کونډې راوبللې نو
هغوئ هغه ژوندئ
ولیده. او دا په ټوله
یافه کښې مشهوره
شوه، او ډېرو په
مالک ایمان راوړو.
6


پطرس په یافا کښې د سمندر په غاړه په یو کور
کښې ډېره موده پاتې شو. یوه ورځ پطرس د
کور چت د دعا د پاره وختلو.
کهٔ هغهٔ د ښار دېوال نه
کتلے شو نو ضرور به
یې درې سړی لیدلی
چې د هغهٔ د لټولو د
پاره راروان وو.
7


دا سړی د کورنیولس د رومی فوجیانو یو صوبه دار
وو چې د خدائ عبادت به یې کولو. کورنیولس خپل
نوکران د پطرس
لټون د پاره
ولېږل. ځکه چې
یوې فرښتې
هغهٔ ته په رویا کښې
وئیلی وو. اوس یافا ته
سړی ولېږه چې شمعون
پطرس راوبلی. هغه د
شمعون چمیار کره وو چې
کور یې د سمندر په غاړه دے.
8


کله چې پطرس د کور په چت باندې دعا کوله نو خدائ
ورته یوه رویا وښوله. هغهٔ ته ښکاره شو چې یو لوئ ځادر
زمکې ته راښکته کړے شو.
9


او په هغه ځادر باندې هر قسم ځناور او مارغان وو.
پطرس ووئیل هغه ناپاکه دی. چې مطلب یې دے چې
مذهبی یهودیانو ته د دې د
خوړلو اجازت نهٔ وو،
ناڅاپه هغه یو
آواز واورى،
اے پطرس
پاڅه دا حلال
کړه او وې خوره.
10


پطرس خدائ ته ووئیل! اے
مالکه هیڅکه هم نه، ځکه چې
ما کله هم حرام یا ناپاک څیز
نهٔ دے خوړلے. هغه آواز
ورته په دویم ځل ووئیل چې
څهٔ مالک خدائ پاک ګرزولی
دی نو هغې ته تهٔ حرام مهٔ
وایه. داسې درې ځله وشول.
او بیا هغه ځادر واپس
آسمان ته پورته
کړے شو.
11


پطرس په دې باندې پوهه نهٔ شو چې د دې
رویا څهٔ مطلب وو. هغه له د دې په باره کښې
سوچ کولو چې خدائ پاک هغهٔ ته ووئیل چې
درې سړی تا لټوی. او تهٔ هغوئ
سره لاړ شه.
12


کله چې هغه درې سړی پطرس ته دا خبره کوی
چې د خدائ پاک فرښتې کورنیولس ته وئیلی چې
تا راوغواړی. پطرس ته دا معلومه وه چې خدائ
پاک د هغهٔ مل دے. په ورپسې ورځ
هغه او د هغهٔ شپږ
ملګری د کورنیولس
کور ته لاړل.
13


نو کله چې هغه د یو غېریهودی د
کور په طرف باندې تلل، نو هغهٔ په
دې باندې پوهېدو چې خدائ ټولو
خلقو سره مینه کوی. او خدائ پاک
غواړی چې ټول قومونه په دې
باندې پوهه شی چې عیسی مسیح د
دې دنیا د خلقو خلاصونکے دے.
او چې کله پطرس هلته ورسېدو نو
کورنیولس ورته په سجده شو.
14

پطرس کورنیول ته ووئیل چې پاڅه زهٔ خو هم انسان یم. او بیا هغهٔ په کور کښې ټولو خلقو ته وکتل وې وئیل، تاسو ته پته ده چې یهودیان غېر قومونو سره خپل تعلق ساتل او تلل راتلل جائز نهٔ ګڼی. خو خدائ ما ته دا وښودل چې زهٔ دې یو سړی ته عام یا ناپاک ونهٔ وایم.



15

پطرس هغه غېر قومونو ته (غېریهودیانو) ته ووئیل چې عیسی د خدائ زوئ دے، چا چې په صلیب خپل ځان قربان کړو. او د دنیا د خلاصونکې د جوړېدو د پاره واپس راژوندے شو. بیا په هغهٔ روح لقدوس نازل شو او هغهٔ د خدائ ثنا ووئیله. د پطرس شپږ یهودی ملګری حېران شول. دا د پینتکست په شان وو.



16

د روح القدوس تحفه غېرو قومونو هم ورکړے کېده. بیا پطرس نوو ایماندارانو له د عیسی مسیح په نوم بپتسمه ورکړه.



17

په یروشلم کښې مسیحیان په پطرس ګوته اوچتوی چې هغه غېرو قومونو خواته ځی. نو پطرس هغوئ ته ووئیل چې هغهٔ رویا لیدله، او کورنیولس ته هم په دعا کښې دا هدایات ملاو شوی دی. چې کله هغوئ دا خبرې واورېدې نو د یروشلم مسیحیان چپ شول او د خدائ ثنا یې ووئیله. هغهٔ د دعا په ذریعه هغه مسیحی کلیسیا ته دا ظاهر کړه، چې د خدائ مینه د ټولو د پاره ده.



18

پطرس او د دعا طاقت

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

اعمال ۹ ـ ۱۲

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ـ"

زبور 130:119

19






20

دا قيصئ مونږ ته زمونږ د حيرانونکی خدائ په باره کښي ښودنه کوي چي چا مونږ پيدا کړو او چي څوک غواړی چي هغه مونږ وپيژنو.

خدائ پوهيږی چي مونږ ډير علط کارونه کړی دی، چي هغي ته هغه ګنا وايي. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډيره مينه کوي نو ځکه هغهٔ خپل يک يو زوئ راوليږلو چي هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمي او په سولئ خپل ځان قربان کړي.او بيا عيسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کهٔ تهٔ په عيسی باندي ايمان راوړي او د هغهٔ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړي نو هغه به تا ته بخښنه وکړي. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تهٔ به هغه سره د هميشه د پاره ژوندے اوسيږی.

کهٔ تهٔ په دي ايمان لري چي دا رښتيا دی نو خدائ ته ووايه.خوږه عيسی زهٔ ايمان لرم چي هم تهٔ خدائ يي. تا زما د خاطره پيدا شوي او زما د خاطره مړ شوي او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے يي. زما په ژوند کښي راشه او زما ګناهونه وبخښه، چي زهٔ هم د نن نه ژوندون ومومم او د هميشه د پاره تاسره يم. زما مدد وکړه چي زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ يا لور جوړه شم. آمين

مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبري وکړئ، يوحنا۳:۱۲